مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ځلورمه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۵مه | ٦١٦مه گڼه

# په کابل کې پر ملکیانو خونړی برید؛

## عبدالله عبدالله: ترهګرو وښوده چې دوی پر انسانیت او اسلامي اصولو باور نه لري



۳

### هند او پاکستان ته ګرم سفرونه؛ موخې او پایلې
۲ مخ

### هراس روبه‌افزایش افغان‌ها با پایان طولانی‌ترین جنگ تاریخ
۲ مخ

### د امریکا نوې ستراتیژي؛ د مذهبي جګړو له لارې د حکومتونو راپرځول
۳ مخ

## ناټو: په افغانستان کې مو د سرتېرو حضور د سولې په خبرو کې له پرمختګ سره تړاو لري

د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ یو ځل بیا د افغان سولې بهیر څخه پر خپل ملاتړ ټینګار وکړ. نوموړي دغه راز د ناټو غړو هېوادونو د دفاع وزیرانو غونډې په وروستیو کې ویلي: «په دوحه کې مذاکرات ژر ماتېدونکي «کمزوري» دي، خو د سولې لپاره بهترین فرصت دی، ټول افغانان باید له دغه تاریخي فرصت څخه استفاده وکړي.»

سټولټنبرګ یو ځل بیا په افغانستان کې د تاوتریخوالي زیاتوالی د نه منلو بللی او زیاته کړې یې ده چې طالبان باید د تاوتریخوالي په کمولو د اوربند ټینګېدو ته موقع برابره کړي. د هغه په وینا، په افغانستان کې د ناټو په چوکاټ کې ۱۲ زره بهرني سرتېري حضور لري چې په وینا یې، د یادو سرتېرو د شتون او له دغه هېواده د وتلو په اړه به په ګډه تصمیم نیول کېږي. د ناټو عمومي منشي زیاته کړې: «د سرتېرو د شمېر تغیر په راتلونکي کې د سولې په خبرو کې له پرمختګ سره تړاو لري.»

نوموړي یو ځل بیا له طالبانو څخه غوښتي چې له القاعده او نورو وسله والو ډلو سره اړیکې پرې کړي. هغه زیاته کړې چې په افغانستان کې د تېرو کلونو لاسته راوړنې په ډېرو قربانیو سره تر لاسه شوي او دا لاسته راوړنې باید وساتل شي.

د یادونې ده د سولې بین الافغاني مذاکرات چې له پرانیستل کېدو څخه یې څه باندې یوه میاشت تېرېږي، خو لا هم د دواړو لورو مذاکراتي ډلې د مخامخ خبرو د پیلېدو لپاره د اختلافي مسایلو پر هواري هوکړې ته نه دي رسېدلي.

## حامد کرزی: د افغانستان پر سر د امریکا او پاکستان معامله نه منو، پر وړاندې یې درېږو



۵مخ

پوهنتون
۴ مخ

## امیر علي شېر نوايي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د نورو پوهنځیو ایجادول، د ماسټرۍ پروګرام پیلول او د ماسټرۍ لپاره بهر ته د محصلینو او استادانو استول د دې موسسې راتلونکي پلانونه دي.



## مومند: د هوايي دهلېزونو له لارې په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی



د سوداګرۍ او صنایعو خونې چارواکي وايي، چې د هوايي دهلېزونو له لارې په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د یادې خونې مرستیال یونس مومند رسنیو ته ویلي چې له کرنتین وروسته پروازونه زیات شوي او د روان لمریز کال له پیله تر اوسه څلور زره ټنه وچې او تازه مېوې بهر ته صادر شوي دي. نوموړي دغه راز زیاته کړې چې هند او چین له هغو هېوادونو څخه دي چې د هوايي دهلېزونو له لارې ورته ډېر صادرات شوي دي. د سوداګرۍ او صنایعو د خونې د چارواکو په خبره، له تېر کال څخه تر دې دمه بهر ته ۳ زره او ۵۰۰ ټنه مېوې او بېلابېلو توکي صادر شوي وو. د یادې خونې مسوولین وايي چې په راتلونکو نږدې ورځو کې به څلور سوه ټنه جلغوزي چین ته ولېږل شي. د یادونې ده چې په دې وروستیو کې په نړۍ کې د کرونا وبا له خپرېدو سره هممهاله له افغانستانه صادرات هم په ټپه درېدلي وو، خو اوس دا لړۍ بېرته پیل شوې ده.


## تفاهمنامه جذب حدود سه میلیارد دالر سرمایه گذاری در کابل امضا شد



تفاهمنامه همکاری برای تسهیل و جذب سرمایه گذاری برای تطبیق ۴۳ پروژه؛ میان وزارت شهرسازی و اراضی، وزارت صنعت و تجارت، واحد تسهیل سرمایه گذاری و فدراسیون اتاق های افغانستان، امضا شد. این تفاهمنامه، دیروز میان مقام های اداره های یادشده، در کابل به امضا رسید.

محمود کرزی سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی، در این نشست گفت که از میان ۴۳ پروژ یادشده، ۱۷ پروژه تجارتی، ده پروژه رهایشی و ١٦ پروژه تجارتی و رهایشی می باشد.

براساس معلومات او؛ مقدار سرمایه گذاری پروژه های تجارتی، یک عشاریه هفت میلیارد دالر؛ مقدار سرمایه گذاری پروژه های رهایشی، یک میلیارد دالر؛ و قیمت مجموعی زمین مربوط پروژه ها ،۷۵۳ میلیون دالر می شود که درهفت ولایت (کابل، ننگرهار، لغمان ، کندهار، هرات، بلخ و خوست) عملی می گردد. در اعلامیه مشترک نهادهای یادشده، آمده است: «وزارت شهرسازی و اراضی، در هماهنگی با نهادهای ذیدخل، به منظور استفاد موثر از اراضی و املاک دولتی، اخیرا بسته سرمایه گذاری ۴۳ پروژه را آماده کرده که با اعلان این بسته، زمینه جذب ۲.۷ میلیارد دالر امریکایی سرمایه سکتور خصوصی فراهم شده، دو میلیارد دالر به عواید دولت افزود می شود و برای هزاران نفر، فرصت های شغلی و اقتصادی مساعد می گردد.» منبع نوشته است که تمام جزئیات و معلومات مورد نیاز، در خصوص ۴۳ پروژۀ یادشده، به دسترس سکتور خصوصی قرار داده می شود. منبع افزوده است که قرار است کمیته مشترک مشمول نماینده های هر چهار اداره، ایجاد و مسئولیت تطبیق تفاهمنامه را به عهده بگیرد.



## دریـــغ

# هند او پاکستان ته گرم سفرونه؛ موخې او پایلې

په لنډه موده کې څو افغان چارواکو او سیاستوالو هند او پاکستان ته سفرونه کړي او په ظاهره یې د دغو هېوادونو له چارواکو سره پر افغان سوله خبرې کړې دي. د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله، د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار او د ولسي جرگې رییس او ځینې وکیلان پاکستان ته تللي دي. بلخوا بیا عبدالله عبدالله، جنرال دوستم او عطامحمد نور هند ته تللي دي. دوی ټولو د دغو هېوادونو له رسمي چارواکو سره لیدلي دي او ویل شوي چې پر افغان سوله یې خبرې کړې دي.

پوښتنه دا ده چې د دغو سفرونو اصلي موخه څه ده او څه پایلې به ولري؟

په افغانستان کې د تېرو نولسو کلونو جگړې د هند او پاکستان د نیابتي جگړې رنگ او بوی لاره او اوس چې خبره د سولې هم ده، نو دواړه هېوادونه یو له بل سره بیخي متضاد دریځونه لري. امریکا د سولې روانه پروسه د پاکستان په مرسته او خوښه روانه کړې ده. پاکستان پر دې پروسه خوشاله دی او داسې ښکاري چې له دې امله له امریکا سره په ژوره معامله کې ښکېل دی. هند بیا له روانې سولې ناراضه دی او فکر کوي چې پاکستان پکې دخیل دی او هند یو مخ ترې ایستل شوی دی. د سولې له دې پروسې سره هند فکر کوي چې طالبان واکمنېږي او په افغانستان کې د پاکستان رول زیاتیږي. هندي چارواکي وېرېږي چې نه یوازې د تېرو ۱۹ کلونو پانگونه یې په اوبو لاهو کېږي، بلکې افغانستان یې یو مخ له لاسه وځي. د دې تر څنگ، هند فکر کوي چې که په افغانستان کې هغه جگړه ودرېږي، چې پاکستان پکې دخیل دی، نو پاکستان به پیاوړی شي او بیا به پاکستان د افغانستان پر ځای پر کشمیر او هند تمرکز کوي.

هند او پاکستان دواړه په افغانستان کې خپل متحدین او یا لاسپوخي لري. دواړه غواړي چې د خپلو لاسپوځو پر مټ په افغانستان کې خپلې موخې تعقیب کړي. هند ته د دوستم او عطامحمد نور ورتگ ښایي د سولې پر وړاندې د ممکنه عملي خنډ او د جگړې د دوام له پروگرام سره تړلي وي، ځکه چې ادعا شوې د هند په مرسته د افغانستان په هغو سیمو کې وسلې ویشل کېږي او ملیشې جوړیږي چې دوستم او نور پکې نفوذ لري. له بله اړخه پاکستان له طالبانو سره خپله معامله لري، د دې تر څنگ نورې لارې هم د فشار او خپلو موخو لپاره کاروي. ځینې سیاستوال او چارواکي خو داسې هم ښکاري چې له هند څخه پاکستان ته خپله سیاسي قبله بدلوي او هڅه کوي چې د سولې په پروسه کې د پاکستان لاره تعقیب کړي، څو په راتلونکې کې هم په واک او حکومت کې شریکان وي. له همدې امله پاکستان او هند ته گرم سفرونه دي او ښایي دا سفرونه همداسې دوام وکړي.

د دغو سفرونو پایلې به ځکه ښې نه وي چې ورسره دلته د دغو دواړو هېوادونو سیالي زیاتیږي، د نیابتي جگړې د دوام هڅې زیاتیږي او د دې تر څنگ، د سولې په چاره کې به هم د ځینو سیاستوالو او چارواکو دریځ او هلې ځلې د افغانستان د گټو پر ځای د هند یا پاکستان د خوشالۍ لپاره وي. له همدې امله دا سفرونه د افغانستان په خیر نه دي او پکار ده چې ډډه ترې وشي.

# هراس روبه‌افزایش افغان‌ها با پایان طولانی‌ترین جنگ تاریخ آمریکا

نویسنده: **لیز دوست**
خبرنگار ارشد بین‌المللی بی‌بی‌سی

در حالی که گفتگوهای صلح افغانستان با رکود مواجه شده، طالبان به حملات تهاجمی خود ادامه می‌دهند. احتمال تامین صلح در افغانستان پس از خروج نیروهای آمریکایی در چه حد است؟

بنای یادبود ساده‌ای در شمال افغانستان هست که لبه سخت و تیز دارد و از قطعات مرمر با رگه‌های سیاه ساخته شده که یادآورنده فصل تاریکی از برهه مهم تاریخی این بخش از کشور است.

در این زمان، در حالی که آمریکا به پایان طولانی‌ترین جنگ خود نزدیک می‌شود، مناسب به نظر می‌آمد که هیأتی از افسران ارشد نظامی آمریکایی و افغان برای ادای احترام به آرامگاه یک افسر ۳۲ ساله آژانس اطلاعات مرکزی آمریکا (سیا) در این نقطه برای دقایقی توقفی داشته باشند. این افسر نخستین آمریکایی بود که در جنگی برای سرنگونی طالبان در ۲۰۰۱ کشته شد .

روی این سنگ‌بنای مرمرین به خط فارسی و انگلیسی درباره مایک اسپن که در نبردی خونین در نوامبر همان سال کشته شد، نوشته شده: «قهرمانی که جان خود را برای آزادی؛ برای افغانستان و برای ایالات متحده آمریکا فدا کرد.»

نوزده سال پس از آن و پس از مرگ بیش از ۳۵۰۰ تن از نیروهای ائتلاف و کشته شدن بیش از ۱۱۰ هزار افغان در حالی که شمارش معکوس برای خروج تدریجی آخرین سربازان نیروهای ایالات متحده و ناتو از افغانستان سرعت می‌گیرد، نگرانی اصلی جلوگیری از فرجامی آشفته است، یعنی در بدترین حالت سقوط دیگرباره این کشور به جنگ داخلی.

**تمام جوانب باید خشونت‌ها را کاهش دهند**

جنرال اسکات میلر، فرمانده نیروهای آمریکایی و ناتو در افغانستان می‌گوید: «آنچه ما می‌خواهیم انجام دهیم جلوگیری از وضعیتی است که منجر به نتایج منفی شود و تمام تلاش ما بر این نکته متمرکز است که افغانستان دوباره به سوی جنگ‌های داخلی پیش نرود و شرایط از این بدتر نشود.»

گروه طالبان در حال حاضر بیشترین قدرت را از ۲۰۰۱ میلادی به این طرف دارد و با وجود امضای توافقنامه صلح با آمریکا در ماه فبروری سال روان به حملات تهاجمی خود در ولسوالی‌های افغانستان ادامه می‌دهند، پیمانی که برای مردمی جنگ‌زده و خسته از جنگ امیدوار کننده بود، اما وضعیت به طور روزافزونی بدتر شده است.

جنرال میلر در یک گفتگوی اختصاصی با بی‌بی‌سی در جریان دیدارش از پایگاه مشترک نیروهای آمریکایی و افغان گفت، خشونت‌ها باید کاهش یابد. او در حال حاضر با رهبران نظامی و غیرنظامی صحبت می‌کند تا درباره بهترین نحوه ممکن انتقال اطمینان حاصل کند.

جنرال میلر می‌گوید: «به طور ویژه از طالبان می‌خواهم که سطح خشونت‌ها را کاهش دهند و نمی‌خواهم یک جانبه باشم، بلکه از تمام طرف‌های درگیر می‌خواهم تا خشونت‌ها را کاهش دهند.»

براساس توافق صلح آمریکا و طالبان که بعد از یک سال مذاکرات نفس گیر در دوحه قطر به امضاء رسید، انتظار می‌رود آخرین نیروهای ۴۵۰۰ نفری آمریکا و ٦١٠٠ نیروی وابسته به ناتو سال آینده میلادی افغانستان را ترک کنند .

اما در این توافق نامه آمده است که این منوط به انجام تعهداتی از جمله تمام ارتباطات با گروه‌های افراطی مانند القاعده از سوی طالبان است.

آنها می‌خواهند اطمینان حاصل کنند که افغانستان دوباره به پناهگاه اصلی این گروه‌ها مبدل نمی‌شود و حملات شبیه ۱۱ سپتامبر ۲۰۰۱ که نیروهای ناتو را درگیر این تعامل مهم و پرهزینه کرد، تبدیل نخواهد شد.

از ماه فبروی که توافق میان آمریکا و طالبان امضا شده تاکنون حتی یک سرباز آمریکایی در حملات طالبان کشته نشده است؛ اما اشاره این توافقنامه به کاهش خشونت علیه نیروهای افغان مبهم است و اکنون این توافقنامه به کانون تفسیر و استدلال‌های متناقضی مبدل شده است.

همین مسئله باعث می‌شود که جنرال میلر و زلمی خلیلزاد، نماینده آمریکا در امور صلح افغانستان به طور مداوم به شهرهایی از جمله دوحه و نیز پایتخت‌های تاثیر گذار منطقه در امور افغانستان، در سفر باشند.

در همین حال سربازان در حال خدمت از بحث درباره حساسیت‌های انتخابات پر سر و صدا در کشورشان آمریکا و همچنین دگرگون پذیری سیاست فرمانده کل ارتش و تمایل او به سیاست‌های ناپایدار و توییت‌های غیر قابل پیش‌بینی او، خودداری می‌کنند.

آیا سربازان آمریکایی «تا کریسمس در کشور خود شان خواهند بود؟»

یکی دیگر از پیام‌های رسانه‌ای در شبکه اجتماعی که از جانب دونالد ترامپ ماه گذشته در توییتر «شلیک» شد، تماس‌های تلیفونی از واشنگتن به خط مقدم جنگ را در پی داشت، این بود: «ما باید همان تعداد اندک باقیمانده از مردان و زنان شجاع خود را که در افغانستان خدمت می‌کنند، تا کریسمس در خانه‌های شان داشته باشیم.»

جنرال میلر به سوالی در مورد این که آیا جدول زمانی خروج سربازان در اوایل ماه مه در این مورد هنوز یک هدف معتبر است، با درایت پاسخ داد:»آن تصمیم‌ها سیاسی است.»

«ما توصیه‌های نظامی می‌کنیم و من این کار را برای رهنمود سیاستمداران و دیدگاه در مورد روند صلح می‌گذارم.»

توافقنامه آمریکا با طالبان در عین حال زمینه مذاکرات تاریخی بین الافغانی را فراهم کرده که ماه گذشته بین طالبان و هیأت مذاکره‌کننده دولت آغاز شد.

به نظر می‌رسد این یک شروع دلگرم‌کننده مبنی بر تعهد برای تمرکز روی میز مذاکره به جای جنگ را برجسته می‌کند.

اما بن‌بست موجود روی مباحث حساسی مثل قوانین اسلامی، ذهن‌ها را متوجه خطرات شکست این مذاکرات کرده است.

حمدالله محب، مشاور امنیت ملی افغانستان هنگام گفتگو با من در صحن پر از گل و محوطه سبز در داخل ارگ که از نظر امنیتی به شدت محافظت‌شده است تأکید کرد که «همه تلاش خود را می‌کنیم تا به صلح با طالبان به عنوان یک فرصت نگاه کنیم».

او گفت: «اما صلح و جنگ با هم پیش می‌روند و ما همچنین برای سناریوهای دیگر آماده می‌شویم.»

در خارج از این قلعه باشکوه (ارگ) ساخته شده در قرن نوزدهم که با دیوارهای سنگی قدیمی و حلقه‌های فولادی جدید استوار شده است، مردم در سراسر افغانستان نسبت به تهاجم طالبان به شهرهای مهم، از جمله خود کابل به شدت نگرانند.

اما بازدید جنرال میلر در این هفته از ولایت فراه در غرب، مانند توقف اخیر وی در پایگاه «قلعه جنگی» در بلخ ، بخشی از تشدید تلاش‌ها برای نشان دادن ادامه حمایت ایالات متحده از افغانستان است؛ در حالی که عقربه‌های ساعت برای خروج نیروهای آمریکایی در واشنگتن آهنگ متناقضی دارد.

در هر توقف فرماندهان نظامی، افسران نظامی و غیرنظامی افغان و آمریکایی، در محافل بر روی صندلی های راحت با در نظر داشت حفظ فاصله اجتماعی به خاطر ویروس کرونا، قدرت نیروهای امنیتی افغانستان در برابر شورشیان طالبان را که به زندگی افغان‌ها ربط دارد، ارزیابی می‌کنند و در مورد آن بحث می‌کنند.

اگر چه جزئیات مربوط به مسایل امنیتی در هر ولایت افغانستان متفاوت است، اما جهت و خطرات آن تقریباً یکسان است. نیروهای امنیتی افغانستان از جمله نیروهای ویژه در برخی نبردها شکست می‌خورند و متحمل و تلفات می‌شوند. در حال حاضر برد آنها در حمایت از نیروهای هوایی آمریکا است که در میدان‌های جنگ میان نیروهای دولتی و طالبان تفاوتی ایجاد کرده است.

«ما در فراه در حالت محاصره مانده‌ایم» جمله‌ای بود که به عنوان دلیلی برای درخواست کمک از یک جنرال آمریکایی مطرح می‌شد. جنرالی که در مورد مسیرهای دشوارگذر از نظر امنیتی برای نیروهای افغان صحبت می‌کرد.

جنرال ایوب سالنگی، که جنرال میلر را در ماموریت تازه‌اش برای بازدید مناطق مختلف در افغانستان همراهی می‌کند، با ژستی شجاعانه‌ای با اشاره به جنگ‌های قبلی مجاهدین تحت حمایت غرب علیه ارتش مورد حمایت شوروی در دهه ۱۹۸۰ گفت: «اکنون شرایط دشوارتر است، اما ما قبلاً با شرایط بدتری نیز روبرو شده ایم و رهبران افغانستان این کار را دوباره انجام خواهند داد.»

**احتمال زیاد جنگ داخلی**

اما سقوط کشور به جنگ پرهرج و مرج داخلی در میان جناح‌های مسلح که پس از عقب نشینی شوروی در سال ۱۹۸۹ اتفاق افتاد، نیز در حافظه افغان‌ها هنوز به طور برجسته‌ای باقی است.

«نگرانی شخصی من از ناکامی خود ماست.» این را حمدالله محب در پاسخ به پرسش من از دغدغه اصلی خود گفت.»

وی در هشدار جدی مبنی بر اینکه تهدید به جنگ داخلی «بسیار محتمل» است ، تأکید کرد که رهبری دولت همه تلاش خود را برای جلوگیری از آن به خرج می‌دهد.

نیروی هوایی ایالات متحده، یکی از قدرتمندترین سلاح‌ها در جنگ‌های افغانستان است که در ماه جاری مسیر جنگ را تغییر داده است به ویژه زمانی که جنگجویان طالبان با حمله به نیروهای دولتی در ولایت استراتیژیک هلمند قدرت این نیروها و حامیان آمریکایی شان را آزمودند و ایست‌های بازرسی دولت را در اطراف شهر لشکرگاه درهم شکستند.

آقای محب می‌پذیرد که «کمک آمریکایی‌ها در هلمند بسیار حیاتی بود.» اما در مورد گمانه‌زنی ها مبنی بر حمله جنگجویان طالبان به مراکز ولایت‌ها پس از توقف حملات هوایی آمریکایی‌ها وی تأکید کرد که نیروهای امنیتی افغانستان «همه جنگ‌ها را انجام داده اند» و پیشرفت مداوم در جبهه‌های دیگر از جمله آموزش خلبانان خود افغانستان برای هواپیماهای جنگی دولت ادامه خواهد داشت.

حملات هوایی آمریکا در هلمند، اتهامات خشمگینانه طالبان مبنی بر نقض توافقنامه آمریکایی‌ها با آنها را درپی داشت.

جنرال میلر با اشاره به این موضوع تاکید کرد: «در صورت ادامه حملات طالبان از نیروهای امنیتی افغانستان دفاع خواهیم کرد».

او افزود که ما بسیار خویشتنداری نشان داده‌ایم، زیرا در تلاش هستیم روند صلح کارساز باشد.

**برچیده شدن پایگاه‌های آمریکا**

اما با گذشت هر ماه، نشانه‌هایی نیز وجود دارد که ارتش مقتدر آمریکا سرانجام در حال جمع کردن وسایل خود برای خروج از افغانستان است.

در بگرام، بزرگترین پایگاه نظامی آمریکا در این کشور که طی سال‌ها به شهرکی مبدل شده، هلی کوپترها و هواپیماهای حمل و نقل نظامی برای انتقال سخت افزارهای نظامی بزرگ به طور مداوم حضور دارند. سرنوشت این محوطه وسیع هنوز نامشخص است، اما یک حصار امنیتی قابل انتقال در فاصله حدود چندین زمین فوتبال به عقب کشیده شده است.

در همین حال زندگی روزمره و جنب و جوش مردم در این منطقه هم در حال کمرنگ شدن است. برخی از مغازه‌هایی که از فروش مازاد ارتش آمریکا در این جا از چکمه‌های تقریباً جدید تا کمپیوتر و دستگاه‌های ورزشی سود خوبی به دست آوردند، اکنون مسدود شده‌اند.

ملک، که مانند ده‌ها هزار نفر دیگر از ساکنان بگرام در پایگاه و اطراف آن کار می‌کرد، در خیابان با ما سر صحبت را باز کرد.

او گفت: «من حلقه ازدواجم را فروختم، زیرا پول و چیز دیگری در خانه ندارم. « ملک ۲۸ ساله هنگامی که روی سطح ترک‌خورده سیمانی که قبلاً از جمله محوطه پایگاه بود ایستاده بود، به من گفت:»من آن را برای خرید غذا برای فرزندانم فروختم.»

بیم در چهره او محسوس بود.

وی با صدای بلند و هشدارآمیز گفت: «طالبان صد در صد اینجا هستند.»

در افغانستان اکنون یک حس عمیق عدم اطمینان نسبت به آینده از جمله آنچه که نتیجه انتخابات پیشرو در آمریکا برای این کشور به ارمغان خواهد آورد، وجود دارد. چه ترامپ برنده انتخابات شود چه بایدن، هر کدام رویکردهای مختلفی را برای خروج سربازان شان روی دست خواهد گرفت و به نظر می‌رسد که به طور حتم به زودی پایان این ماموریت فراخواهد رسید.

خطوط قرمز اصلی واشنگتن با ارزیابی در مورد تهدیدات امنیتی به خود آمریکا ترسیم خواهد شد حتی اگر مذاکرات صلح افغانستان ادامه یابد، همانطور که احتمالش می‌رود؛ اما با شمارش معکوس فرمانده نیروهای آمریکایی در افغانستان به فکر به جا ماندن میراثی است که در صدر اولویت‌های افغان‌ها نیز هست.

# د امریکا نوې ستراتیژي؛

## د مذهبي جګړو له لارې د حکومتونو راپرځول

لیکنه: عبدالله لغمانی

د توکم پالنې جګړې د امریکا په متحده ایالاتو کې ډېر پخوانی تاریخ لري او د پېړیو پېړیو په تېرېدو لا هم په امریکا کې تور پوستو ته په ځینو ایالتونو کې په ښه نظر نه کتل کېږي. په دې اړه خبرې کول یوه اوږده بحث ته اړتیا لري او دا یوه اوږده موضوع ده. د دې خپل منځي تفرقو مشري په ډېرو مواردو کې سپین پوستو لوړ پوړو امریکایي چارواکو د خپل حاکمیت د غځولو لپاره کوله؛ خو نن سبا چې د رنګ او توکم پر اساس جګړې کوم انتن نه ورکوي او خلک له هغو دورو راوتلي دي؛ اوس امریکایي چارواکي او د دوی ځینې متحدین غواړي چې د مذهبونو پر بنسټ جګړې یو ځل بیا را ژوندۍ کړي، څو وکولای شي هغه حکومتونه چې د دوی تابعداري نه کوي او یا د دوی پر پله پل نه ږدي، د بشري حقونو، د لږکیو او مذهبي حقونو په نوم په کور دننه لمبو کې راګیر کړي.

په دې وروستیو کې د ټرمپ ادارې د مذهبي ازادۍ لپاره یو نړیوال اتحاد تاسیس کړ او لامل یې د دوی په وینا په بېلابېلو هېوادونو کې د لږکیو او مذهبي ډلو د حقونو پر وړاندې د دوی اندېښنه او د هغو د حقه حقونو نه ورکول ښودل شوي دي. په دې اړه غونډه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ځینې هغه هېوادونه چې حکومتونه او حکومتي چارواکي یې د دوی نه خوښېږي او د دوی د سل سلنې امر منونکي نه دي؛ د مذهبي لږکیو د حقونو په سرغړونه تورن کړل. په لېست کې یې ایران، چین، روسیه، نیکاراګوا، مالیزیا، عراق، قزاقستان، اذاربایجان او نور هغه هېوادونه وو چې د دوی له پالیسۍ سره مخالف وو.

ښکاره ده چې په دې هېوادونو کې مذهبي انګېزه، د لږکیو راپارول او د حکومتونو پر وړاندې یې درول د امریکا مهم او اساسي هدف دی او د دې حکومتونو د متزلزل کولو او کمزوري کولو لپاره یې د راتلونکې وسیلې په توګه کاروي او وار له مخه په دې کار کوي چې په ځینو هېوادونو کې دا ذهنیت ایجاد کړي او په تدریج سره خپلو اهدافو ته ځان پرې رسوي. په ښکاره ډول مذهبي انګېزه په دې هیوادونو کې داخلي ثبات ته د زیان رسولو لپاره یو غوره انتخاب دی.

دوی د دې کار لپاره ځانګړي جوړ شوي عکسونه او ایډیټ شوې او جوړې شوې ویډیوګانې جوړوي، په خواله رسنیو کې پراخ تبلیغات کوي او بیا یې په هغو هېوادونو کې د خپرولو هڅه کوي، چې دوی غواړي سیاسي بې ثباتۍ ته پکې لمن ووهي. دوی یوازې دا کار په اسلامي ټولنو کې نه کوي؛ بلکې په ټولو هغو ټولنو کې لکه کاتولیکانو، ارتودوکسانو، بودایانو او نورو هغو ټولنو کې چې دا کسان پکې په اقلیت کې دي، کار کوي او دوی هرج ومرج ته له بېلابېلو لارو لمسوي.

څېړنې وایي چې دوی په مذهبونو کې د ننه د اختلاف د را پیدا کولو لپاره په هغو کې بېلابېلې وسله والې ډلې را پیدا کوي او د هغو د تمویل او تجهیز لپاره د ځینو هېوادونو د استخباراتو په مرسته کار کوي، چې ښه بېلګه یې د داعش ډلې راپورته کول دي او هغه هېوادونه چې دوی پکې موخې لري، د هغو لپاره یې د روزلو او نورو هېوادونو ته د ورلېږلو چارې پر مخ وړي.

همدارنګه په اوس وخت کې طالبان چې د دوی د پروژې یوه بله برخه ده او د افغانستان دولت چې نوی په پښو د ولاړېدو هڅه کوي، غواړي د قطر د مذاکراتو او په کور د ننه د حملو په کولو سره یې په راتلونکي دولت کې له ډېر امتیاز څخه برخمن کړي، په داسې حال کې چې د همدې ډلې په لومړۍ راپورته کېدو کې دوی له ځینو نورو هېوادونو سره په ګډه رول درلود او بیا د ځینو ګټو پر سر سره مخالف شول. اوس یې بېرته ورسره تړون لاسلیک کړ او هغه دولت چې د نړیوالې ټولنې په مرسته راجوړ شوی، دوی یې بېرته پر طالب باندې د کمزوري کولو او راپرځولو هڅه کوي.

دوی مخکې له دې دا اور په عراق او یمن کې د سني او شیعه په نامه او په سوډان کې د عیسوي او مسلمان په نامه بل کړی و او په نورو عربي هېوادونو کې هم د ورته کارونو هڅه کوي او په سوریه او عراق کې یې هم د همدې موخې لپاره د داعش ډلې په جوړولو کې غیرمستقیم خو کلیدي لاس درلود.

اوس وایي چې امریکا کوښښ کوي چې پر ایران له هرې خوا حلقه راتینګه کړي او لا هم دوام ورکوي او تازه یې په دې هېواد کې د یهودانو د حقونو تر پښو لاندې کېدل یاد کړي، څو د اسراییلو او نورو هېوادونو ملاتړ هم د ایراني دولت په لا کمزوري کولو کې له ځان سره ولري.

د امریکا د مذهبي ازادۍ د منشور له مخې، هر ډول مذهبي خوځښتونه باید په هره ټولنه او هر ځای کې د خپلو حقه حقونو لپاره غږ پورته کړي. په داسې حال کې چې خپله د امریکا د متحده ایالاتو په د ننه کې په داسې مذهبي او توکمي توپیرونو باندې سترګې پټوي او یوازې د میډیا په مخ کې د نمایشي عدالت سورنۍ غږوي.

دوی په ځینو نورو ټولنو کې چې د دوی لپاره خطر او ستراتیژیکه سیمه نه وي، کوم کار نه لري. د بېلګې په توګه، د میانمار د مسلمانانو پر وړاندې دوی غږ پورته نه کړ چې د توندلارو بودایانو لخوا په بې رحمۍ وژل کېدل او له خپلو پلرنیو سیمو څخه مهاجر کېدل. علت یې دا و چې میانمار د دوی لپاره ستراتیژیکه سیمه نه وه او نه هم د میانمار دولت د امریکا د ګټو پر وړاندې کوم ګواښ پېښولی شوای.

امریکا په خپل دې کار سره خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره کار کوي او د ملتونو په بې اتفاقۍ او د دښمنۍ تخم شیندلو کې دوی خپلو ګټو ته ځان رسول غواړي. دوی په اسانۍ سره له دې لارې د ملتونو د وحدت جرړې له منځه وړي او هغه ملتونه چې پرون سره ورونه وو، نن یې د خپلو نیرنګونو او چلونو له لارې یو د بل پر وړاندې دروي او یو پر بل یې وژني.

# په کابل کې پر ملکیانو خونړی برید؛

## عبدالله عبدالله: ترهګرو وښوده چې دوی پر انسانیت او اسلامي اصولو باور نه لري



په کابل کې د نا امنیو، جنایي پېښو، هدفي وژنو او خونړیو بریدونو په دوام تېر ماښام خونړۍ ځانمرګی برید شوی دی. د وروستیو معلوماتو له مخې، په پېښه کې تر سلو پورې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د ملي مصالحې عالي شورا او ګڼو نورو ارګانونو دغه برید غندلی او هغه یې وحشتناک عمل بللی دی. پېښه پر یوه روزنیز مرکز شوې چې تنکي ځوانان او ماشومان پکې د ښوونځي مضامین لولي او شاوخوا یې هم دولتي ودانۍ نشته. کورنیو چارو وزارت بیا وایي چې بریدګر هدف ته تر رسېدو مخکې وژل شوی، نو ځکه یې تلفات کم وو.

په وروستیو اونیو کې کابل ښار د وېرې او وحشت په ډګر بدل شوی دی. هره ورځ جنایي پېښې هغه څه دي چې کابل ښاریان یې ناارامه کړي دي. اوس تازه یو ځل بیا د ځانمرګو او درنو چاودنو راپورونه خپرېږي. په کابل کې په هرو دوو ورځو کې ارو مرو د چسپکي ماین چاودنه وي او یا هم وسله والو هدفي برید کړی وي. د همدې بریدونو او وحشتناکو کړنو په دوام تېره ورځ ناوخته د کابل ښار په ۱۳مه امنیتي حوزه کې هم خونړی برید شوی دی. د معلوماتو له مخې، برید د کوثر دانش په نامه پر یوه روزنیز کورس شوی چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین مسیر ورځپاڼې ته په غږیز پیغام کې وویل چې بریدګر موخې ته تر رسېدو مخکې د روزنیز مرکز د ساتونکو له لوري پېژندل شوی و. د ده په خبره، ساتونکو پر بریدګر ډزونه کړي او هغه هم له ځان سره راوړو چاودېدونکو توکو ته چاودنه ورکړې ده. د راپورونو له مخې، په دې پېښه کې ۲۹ کسان وژل شوي او ۷۲ نور ټپیان شوي دي.

بلخوا په سیمه کې عیني شاهدان او ځینې رسنۍ بیا د تلفاتو شمېره تر دې لوړه ښيي. طارق آرین وروستی برید د ترهګرو ستر او بل جنایت بولي. هغه نه دي ویلي چې د پېښې مسوول څوک دي، خو په وینا یې، دا د ترهګرو او افغانانو د دښمنانو کار دی. دده په خبره: ((ترهګرو یو ځل بیا ثابته کړه چې دوی پر هېچا رحم نه کوي. له بده مرغه په وروستي برید کې یې هم ټول وژل شوي او ټپیان ملکي وګړي دي)).

له دې سره جوخت ګڼو حکومتي او نړیوالو ادارو په کابل کې د تېرې ورځې برید غندلی او هغه یې وحشیانه بللی دی. د ملي مصالحې عالي شورا رییس دغه برید د انساني اصولو او صفات خلاف بللی او په خبره یې، د ملکیانو وژل په اسلام کې له ټولو اصلولو سره په ټکر کې عمل دی. ډاکټر عبدالله عبدالله د تېرې ورځې د برید مسوولین پر خدای ناباوره خلک بللي دي. د ده په وینا: ((دا حمله په ټوله مانا بشر ضد کړنه ده. بد صفته او وحشي ترهګرو دغه برید په کلکو ټکو غندم. ډارنو او پر خدای ناباوره ترهګرو پر روزنیز مرکز په برید کې زموږ بې ګناه او معصوم زده کوونکي ووژل. دوی وښوده چې هېڅ ډول اصولو ته درناوی نه لري)).

تر دې دمه کومې ډلې ددغه برید مسوولیت نه دی منلی، خو کورنیو چارو وزارت وایي چې طالبانو په دې وروستیو کې د هدفي او نورو وړو او لویو بریدونو د ترسره کولو لپاره په څو ولایتونو کې یوه سل کسیزه ډله ګومارلې چې تر ۱۷ پورې غړي یې نیول شوي دي. طالبانو د ډلې لیږلو په اړه څه نه وایي خو وایي دغه کسان ملکي وګړو ته زیان نه رسوي.

# له نړیوالو فشارونو سره سره؛

## د ناګورنو قره باغ د مالکیت پر سر د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ سختې جګړې روانې دي



د راپورونو له مخې، د ناګورنو قره باغ د مالکیت پر سر د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ سخته جګړه روانه ده او دواړې خواوې یو بل تورنوي چې د ولسي خلکو په کورونو توغندي اوروي. د ناګورنو قره باغ چارواکي وایي، د اذربایجان یو شمېر کلیوالې سیمې یې په راکټونو وېشتلې دي.

د دوی په وینا، په دغو بریدونو کې د هغوی ۹۲۷ سرتېري او ۳۰ ولسي خلک وژل شوي دي. که څه هم اذربایجان لا نه دي ویلي چې په جګړه کې د هغوی څومره سرتېري وژل شوي، خو زیاته کړې یې ده چې د ارمنستان په بریدونو کې ۶۳ ولسي خلک وژل شوي او ۲۹۲ نور ژوبل دي.

په همدې حال کې د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د اذربایجان او ارمنستان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره په خبرو کې ټینګار کړی چې جګړه ختمه کړي او د ولسي خلکو ژوند وساتي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې پامپیو د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو سره جلا-جلا غږېدلی او له هغوی یې غوښتي چې د جګړې ختمولو لپاره عملي ګامونه واخلي.

پامپیو پر خپل ټویټر کې هم لیکلي چې دی او د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران د جګړې ختمولو لپاره د «ارزښتناکو اقداماتو» په اخیستلو غږېدلي دي. په همدې حال کې د اذربایجان ولسمشر الهام علییوف ویلي چې د ارمنستان سرتېري باید د ناګورنو قره باغ له سیمې څخه ووځي چې جګړه ختمه شي. په ورته وخت کې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ویلي، چې ښایي د دغې جګړې له پیل راهیسې ۵۰۰۰ کسان وژل شوي وي.

بلخوا ترکیه وایي، که اذربایجان ترې مرسته وغواړي، چمتو دي چې سرتېري ور واستوي. په همدې حال کې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردغان ویلي چې هیله لري چې له روسیې سره ګډ کار به دا جګړه ختمه کړی شي. د یادونې ده چې ترکیه په دې جګړه کې د اذربایجان ننګه کوي. په همدې حال کې پامپیو پر نورو هېوادونو غږ کړی چې پر دغه اور دې نور تېل نه پاشي.

د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ نښتې داسې مهال ډېرې شوې چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا هم په دې وروستیو کې له دواړو هېوادونو وغوښتل چې روانه جګړه دې ژر تر ژره ودروي او کړکېچ دې د خبرو له لارې حل کړي.

# امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۸۹ کال کې په جوزجان ولایت کې د دوو پوهنځیو (حقوق او سیاسي علوم او اقتصاد) په درلودو سره پر فعالیت پیل کړی دی. د لوړو زده کړو د دې موسسې بنسټګر او د مالي او اداري چارو مرستیال محمد یوسف خدنګ وایي، چې په ۱۳۹۰ کال کې یې لوړو زده کړو وزارت ته د انجینرۍ پوهنځي د تاسیس وړاندیز وکړ او د وزارت لخوا ومنل شو. دغه راز په ۱۳۹۲ کال کې یې د ښوونې او روزنې پوهنځي هم تاسیس کړی، چې اوسمهال د لوړو زده کړو دغه موسسه څلور فعال پوهنځي لري.

محمد یوسف خدنګ وایي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي)، اقتصاد پوهنځی یې (مالي او بانکي او حسابداري)، انجنیري پوهنځی یې (انجنیري صنعتي) او ښوونې او روزنې پوهنځی یې هم خپل اړوند ډیپارټمنټونه لري.

په امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال د دریو زرو په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه یې ښځینه محصلینې دي. ښاغلی محمد یوسف خدنګ وایي، چې په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام پیلولو هوډ هم لري، خو دغه کار به هغه وخت کوي، چې د یوه پوهنتون ټول معیارونه پوره کړي.

د امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو خصوصي موسسې له حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څخه تر اوسه پورې لس دورې، له اقتصاد پوهنځي څخه یې نهه دورې، له انجنیري پوهنځي څخه څلور دورې او له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه یې بیا اته دورې محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

ښاغلی محمد یوسف وایي چې په کلني ډول یې د محصلینو جذب ټوپیر کوي، ځکه په کوم ښار کې چې دوی فعالیت کوي، نفوس یې ډېر زیات نه دی، خو بیا هم په کال کې د زرو تنو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. دی وایي چې د جذب کچه یې هم تر ډېره د خلکو له اقتصادي او د هېواد له امنیتي وضعیت سره تړلې وي.

نوموړی وایي چې په ټوله کې محصلینو ته تخفیف ورکوي او د دې کار لپاره یې یو ځانګړی فورم تیار کړی دی، چې نوي راغلي محصلین دغه فورم ډکوي او وروسته د یوې ځانګړې کمېټې لخوا ارزول کېږي. هغه کسان چې په رښتیا هم له اقتصادي ستونزو سره مخ وي، دوی ورته مناسب تخفیف ورکوي. د دې تر څنګ د شهیدانو او معلولینو د کورنۍ غړو ته هم ځانګړی تخفیف په پام کې نیول شوی دی. دی وایي، د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ځوانانو له برخې سره هوکړه لري او هغه کسان چې دوی ته ور معرفي کېږي، په ټیټ فیس او یا هم په وړیا ډول په موسسه کې شاملېږي. ښاغلی محمد یوسف خدنګ وایي، چې په هر ځل چې نوي کسان جذبوي، د شلو کسانو په شاوخوا کې وړیا محصلین هم نیسي. نوموړی زیاتوي، هغه کسان چې له لوړو زده کړو سره مینه لري، خو اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، نو دوی هڅه کوي چې په یو ډول نه یو ډول ورته د زده کړو زمینه برابره کړي. دی وایي، د موسسې په کچه یې ۹۵ سلنه محصلینو ته تخفیف په پام کې نیولی دی. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ورځې په دوو وختونو کې تدریس کېږي.

کتابتون چې په پوهنتون کې یوه جدي اړتیا بلل کېږي، د امیر علي شېر نوایي اداري هم د دې اړتیا پوره کولو په موخه د محصلینو او استادانو لپاره یو مجهز کتابتون په پام کې نیولی دی. د دې موسسې بنسټګر وایي چې د اداري په هڅو سره یې د لس زره په شاوخوا کې د پوهنځیو اړوند مسلکي او نور بېلابېل کتابونه په دغه کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي، څو محصلین او استادان وکولای شي چې مطالعه یې کړي. دی وایي، د کتابتون د لا غني کولو لپاره یې هڅې پیل کړې دي او کوښښ یې دا دی چې د فزیکي کتابتون تر څنګ، د ډیجېټالي کتابتون امکانات هم د محصلینو لپاره برابر کړي.

په امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د سلو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې دېرش سلنه یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه استادان دي. ښاغلی محمد یوسف خدنګ وایي، چې استادان یې د دوکتورا، ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. دی وایي، استادان یې ټول په خپل مسلک کې د کافي تدریس تجربه لري، څو په کار پوه او مسلکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.

ښاغلی محمد یوسف وایي چې په کور د ننه له ټولو دولتي پوهنتونونو سره نیکې اړیکې لري، خو په ځانګړې توګه د جوزجان له دولتي پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړې هم لري، چې وخت ناوخت د دغه پوهنتون له تجربو ګټه اخلي او خپلې ستونزې ور سره شریکوي. د دې تر څنګ له هېواده بهر د تاجکستان له ملي پوهنتون او د دوو نورو هېوادونو له پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې هم لري، چې له مخې یې خپل هغه استادان چې د ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او هغه محصلین چې نوي فارغېږي، د لا نورو لوړو زده کړو لپاره دغو پوهنتونونو ته ور استوي.

نوموړی وایي چې تر اوسه پورې یې فارغ شویو محصلینو ته هغه ډیپلومونه نه دي ورکړي، چې لوړو زده کړو وزارت یې وېشي، خو تصدیق پاڼه او ترانسکریپ یې چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا تاییدېږي، په کور د ننه او بهر دواړو کې د اعتبار وړ دي او فارغ شوي محصلین کولای شي چې په کومه اداره کې ور باندې دنده واخلي او یا هم د لا نورو لوړو زده کړو لپار تري ګټه پورته کړي. ښاغلی محمد یوسف وایي، لوړو زده کړو وزارت لومړی خصوصي پوهنتونونو او بیا وروسته د لوړو زده کړو موسسو ته هغه ډیپلومونه ورکوي، چې د دغه وزارت لخوا د دولتي پوهنتونونو فارغ شویو محصلینو ته ورکول کېږي.

نوموړی وایي چې د محصلینو لپاره یې ټول هغه امکانات برابر کړي، چې د لوړو زده کړو یوه موسسه یې باید ولري. شنه ساحه، کمپیوټر لب او ورزشي میدانونه هم د امیرعلي شېر نوایي د لوړو زده کړو موسسې له امکاناتو څخه دي. محمد یوسف خدنګ وایي، چې د حقوقو پوهنځي محصلین دولتي محاکمو، د اقتصاد پوهنځي محصلین د ولایت مستوفیت او د انجنیرۍ پوهنځي محصلین بیا د عملي کار لپاره ساحې ته بیایي.

له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د نورو پوهنځیو ایجادول، د ماسټرۍ پروګرام پیلول، د ماسټرۍ لپاره بهر ته د محصلینو او استادانو استول او په هر اړخیزه توګه موسسې ته پرمختګ ورکول، د امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.

د امیر علي شېر نوایي د لوړو زده کړو موسسه د هېواد د لوړو زده کړو له وزارت څخه کومه ځانګړې غوښتنه نه لري او په خبره یې چې وخت ناوخت یې د دوی ستونزو ته رسیدګي کړې ده او تل ور سره همکار دي؛ خو ښاغلی محمد یوسف خدنګ له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې له خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره همکار پاتې شي، څو دغه پوهنتونونه نور هم پرمختګ وکړي اوله دولتي پوهنتونونو سره څنګ پر څنګ د هېواد بچیان وروزي او د پوهې په ګاڼه یې سمبال کړي.

## د کتاب خبرې


# د جاسوسۍ پېښلړ ISI, RAW او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها

◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## لومړۍ برخه

### د استخباراتو تصادفي مشر




یو څه چې پېښېږي هغه غیر ارادي زیان دی. زه په هغو کسانو پسې ګرځم چې دښمن هېواد پیسې ورکوي، ځوک به د هغه چا د پیسو ورکول کېدونکو کسانو په لېست کې وي، چې ګټې یې زما په خبر نه دي او په همدې بهیر کې داسې فعالیت مومم، چې د هېواد له ګټو سره هېڅ راز تړاو نه لري. زه ښایي فکر وکړم چې له هغه نه ځان خلاصول ښه فکر دی. ځینې ښایي آن بلکمېل(بند) شي. ګوره ما ته له یوې نجلۍ سره ولیدلې، دا له ملي امنیت سره هېڅ اړیکه نه لري، خو له دې کبله چې یو کس ښایي وغواړي پر دې نامشروع اړیکه پوه شي، دغه کس ورباندې تړل کېدای شي.

دا ډول کیسې کېږي. دا زموږ اصلي دنده نه ده، خو که پېښېږي باید حل شي. دا شی خلکو ته داسې روحیه ورکوي استخباراتو ته د داسې یو څه په سترګه وګوري، چې باید لرې ترې و اوسي. یو پټ مخبر ښایي پر داسې شیانو پوه شي چې موږ نه غواړو وربانديې پوه وي او ښایي په ځانګړې لېول کې وي، خو د دندې طبیعت ته په کتو کولی شي لوړو پوړیو ته پورته شي. که خلک فکر وکړي چې استفاده ترې کېږي یا کارول کېږي، دوی بیا ډارېږي.

سېنها: د نواز شریف د واکمنۍ پر مهال دې هم کار کړی؟

دوراني: کله چې میا صېب د لومړي ځل لپاره حکومت رهبري کاوه او زه د ISI مشر وم، کومې ښې نتیجې ته سره و نه رسېدو. خلک کولی شي د هغه د عواملو یا موضوعاتو ته د میا صېب د نظر په اړه خبرې وکړي. اصلاً دغه څه یوازې کار ورنه کړ.

سېنها: تاسې د هغه علمي وړتیا ته په درنه سترګه نه کتل.

دوراني: هو. ما دغه راز فکر کاوه چې هغه د مشخصو شیانو په اړه شکمن و. د دې په اړه چې پوځ به ښایي څه وکړي، ISI به څه وکړي، ښه نه وه چې ده د ISI لپاره خپل مشر ټاکلی وای. کله چې زما مشر اسلم بېګ لاړ او له دې کبله چې د ISI مشر، پوځ ته له پام پرته د لومړي وزیر په خوښه کار کوي، پوځ هېڅکله نه وایي چې هغه وګوماره، زه هم چمتو شوم چې لاړ شم. له دې کبله چې زه دوه ستوریز جنرال وم، ټاکل شوې وه چې دا به یو لنډمهالی تنظیم وي.

بلاخره زه درې ستوریز جنرال شوم او له دې کبله مې ادامه ورکړه چې میا صېب ویل: بېګ تللی او آصف نواز (جنجوعه) یې د پوځ د مشر په توګه پر ځای راغلی دی. دا شک و، فکر مې کاوه، چې که آصف نواز د ISI لپاره خپل مشر وټاکي، د پوځ او ISI محور به جوړ او دی به بیا ورسره مخ وي. شریف زما په اړه شکونه درلودل، خو توقعات یې یو دم بدل شول او اوس یې فکر کاوه چې خپل سړی لري.

دا په استخباراتو کې د اړیکو او ژمنتیا په اړه د ملکي سیاستوالو د ناسمې انګېرنې یو مثال و. موږ د کوم چا کسان نه یو. تاسې ښایي یو کس ته لېوالتیا ولرئ، خو چې کله خبره د کار شي، بیا تاسې اداري ته ژمن یاست. دا تر اوسه پورې په بېلابېلو کچو زموږ یوه ښېګڼه پاتې شوې ده. د بېلګې په توګه، په (۱۹۹۱ . ز)کال کې زه او اسلم بېګ د خلیج د جګړې په اړه سره موافق نه وو. له نواز شریف سره زه د افغانستان په اړه موافق نه وم. هغه باور درلود چې موږ یوازې د یوې پراخې اجماع لپاره کار نه کاوه، بلکې د ملګرو ملتونو له ځانګړي استازي بېنن سیوان نه مو غوښتنه کوله، چې د لویې جرګې لپاره کار وکړي، ځکه پاکستان په یوازې ځان، یا پاکستان-ایران یا سعودي ښایي دغه کار نه شوای ترسره کولی. موږ په افغانستان کې پرمختګ نه شوای کولی، نو له همدې کبله باید د سولې بهیر ملګرو ملتونو رهبري کړی او د اسلامي همکاریو سازمان یې ملاتړ کړی وای. موږ سخت کار وکړ. د بهرنیو اړیکو دفتر دغه ځانګړې ستراتېژي رهبري کوله او موږ یې ملاتړ کاوه.

دا هم بیخي ښکاره ده چې اسلم بېګ د خلیج کړکېچ ته څنګه نظر کاوه. د پوځ د عملیاتو مشر جهانګیر کرامت له ده سره موافق نه و. د ISI د مشر په توګه زه ورسره موافق نه وم. خو ده زموږ په اړه بد فکر نه کاوه. په حقیقت کې کله چې د هغه خپله ارزونه غلطه ثابته شوه، نږدې په عام ډول یې اعتراف وکړ چې دی په غلطه و. همدا د هغه لویي وه.

د شریف د قضیې په اړه باید ووایم چې هغه وېره درلوده، چې پر دې سړي باور نه شي کېدای. له همدې کبله شپږ میاشتې وروسته هغه فرصت پیدا کړ او خپل کس یې وګومارلو. ما هم دنده پرېښوده. همدا زما لپاره ښه وه او زه بېرته اصلي مسیر ته ستون شوم. د داسې برخې مشري مې پیل کړه چې زما شالید لرونکو کسانو هېڅا یې تر دغه وخت مسئولیت نه و اخیستی، د پوځ روزنه. دا تر ډېره پلې ځواک دی او زه راکېټچي او توپچي وم. ما په پلي ځواک کې هم خدمت کړی، خو دا بله کیسه ده. زه له پلي ځواک څخه د باندې لومړنی افسر وم چې د پوځ د روزنې مشري راسپارل کېده، چې د تحقیق دنده یې هم درلوده. زه دغه مهال خوشاله وم او وروسته ملي دفاعي کالج ته لاړم. که زموږ ترمنځ کوم یو د پوځ په هره برخه کې د ګومارل کېدو فرصت درلودای، دا داسې دنده وه چې افتخار مو وربانديې کاوه.

دوام لري...

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۸۰ |
| € | ۹۰،۲۰ |
| Rp. | ٤٧٥ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰،٦۰ |
| £ | ۹۹ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166



# د امریکا پټې استخباراتي موخې

لیکواله: زرینه
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

د رسنیو د رپوټونو له مخې، د امریکا د پنټاګون د پوځي استخباراتو بودیجه ۲۳ میلیاردو او سلو میلیونو ډالرو ته لوړه شوې ده او دا په تېرو نهو کلونو کې تر ټولو لوړه اندازه ده.

دا چې امریکا د نړۍ تر ټولو شتمن او ځواکمن هېواد دی، له یو اړخه یې د خپلو استخباراتو لپاره دومره لوړه بودیجه ټاکل د حیرانتیا وړ باید ونه اوسي. د بېلګې په توګه، دغه هېواد یوازې په افغانستان کې د تېرو ۱۹ کلونو په ترڅ کې د رغونې او په پوځي ساحه کې زر میلیارده ډالر لګولي دي.

امریکا د خپلې دولتي بودیجې د مصرف د څرنګوالي د نظارت په موخه، یوه ځانګړې اداره هم جوړه کړې او وخت پر وخت معلومات له رسنیو سره شریکوي؛ خو پوښتنه دا ده چې ایا ربښتیا هم د استخباراتي معلوماتو راټولول دومره زیاتې بودیجې ته اړتیا لري او که په دې پلمه نورې پټې موخې تعقیبوي؟

د امریکا د دفاعي خبرونو اونیزې (Defance news) د اکتوبر په ۲۱مه یوه شمېره خپره کړه، چې له مخې یې د استخباراتي معلوماتو لپاره چې د پوځي استخباراتو پلان یادېږي، د پنټاګون یاده بودیجه د ترکیې له ټول پوځي لګښت څخه چې شاوخوا ۲۰ میلیارده او ٦۰۰ میلیونه ډالره ښودل شوې، هم زیاته ده.

پنټاګون په خپله اعلامیه کې ویلي چې په دغه بودیجه کې دوې برخې ځای لري، چې یوه یې بنسټیزو لګښتونو او بله یې په بهرنیو هېوادونو کې بېړنیو عملیاتو ته بېله شوې ده او هدف یې د امریکا له ملي دفاعي ستراتیژۍ ملاتړ کول دي.

له دې وړاندې پنټاګون د امریکا کانګرېس ته د روان کال لپاره تر ۲۳ میلیاردو ډالرو کمې بودیجې غوښتنلیک وړاندې کړی و، خو اوس تازه خپره شوې شمېره ښیي چې د امریکا کانګرېس د پنټاګون له غوښتنې ډېره بودیجه منظور کړې ده.

په ۲۰۱۹ کال کې د امریکا د کانګرېس لخوا په یوه خپاره شوي رپوټ کې راغلي وو، چې د پوځي استخباراتو د پلان لپاره بودیجه د جنګونو، د نورو هېوادونو او بهرنیو سیاسي ډلو په اړه د معلوماتو د خپرولو او د اړوندو استخباراتي فعالیتونو لپاره لګول کېږي. پر دې سربېره، د امریکا د ځانګړو ځواکونو قوماندانۍ هم له دې بودیجې څخه استفاده کولای شي. دغه قوماندانۍ په یادو پیسو د هغو کشفي څارګرو الوتکو پر اخیستلو لګیا ده، چې د استخباراتي معلوماتو راټولولو، کشف او څار پر عصري ټکنالوژۍ باندې سمبالې دي.

یوه خبره چې ډېره روښانه ده هغه دا ده چې د پنټاګون د بودیجې زیاته برخه د استخباراتي معلوماتو پر راټولولو او د بې پیلوټه الوتکو د اخیستلو په برخه لګول شوې ده.

په عین حال کې پر ځینو هېوادونو د امریکا بریدونه هم زیات او سخت شوي دي. د بېلګې په توګه، امریکا د چین د شینجیانګ، کرونا وبا او هانګ کانګ په ګډون، په ځو برخو کې پر چین بې ساري بې بنسټه تورونو لګولو ته اړم شوې ده.

هغو کسانو ته چې په دې اړه حقیقت ورته نه معلوم نه دی، ښایي د امریکا له لوري د خپرو شوو ناسمو معلوماتو او پروپاګند تر اغېز لاندې راشي.

د توجه وړ خبره دا ده چې د افغانستان په فضا کې بې پیلوټه امریکایي الوتکې هم د پنټاګون د استخباراتي بودیجې په لګښت پروازونه کوي.

خو په دې ترڅ کې ښایي ټولو ته د امریکا پټ پلانونه او موخې لا نه وي معلومې او په دې نه وي خبر چې پنټاګون دومره زیاته بودیجه په حقیقت کې د څه لپاره او ولې مصرفوي؟

## حامد کرزی: د افغانستان پر سر د امریکا او پاکستان معامله نه منو، پر وړاندې یې درېږو

پخوانی ولسمشر حامد کرزی وایي چې افغانان د سولې د بهیر ننګه کوي، خو د افغانستان په اړه د پاکستان او امریکا معامله ورته د منلو نه ده او په خبره یې، پر وړاندې به یې مقاومت وکړي.

ښاغلي کرزي له امریکا غږ سره په ځانګړې مرکه کې ویلي: «د سولې بهیر چې امریکا رامنځ ته کړی، موږ وینو چې د پاکستان سره په عالي هماهنګۍ سره روان دی. موږ د سولې په بهیر کې د پاکستان رول درک کوو، خو موږ ته سوله بل څه ده او د امریکا او پاکستان ترمنځ موافقه یوه بله متفاوته موضوع ده.»



نوموړي زیاته کړې چې دا ډول معاملې له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد له وتلو وروسته هم شوې وې چې افغانان یې له بدبختیو سره مخامخ کړل. ښاغلي کرزي ویلي چې د چین او روسیې په ګډون باید د افغانستان ټول ګاونډیان له امریکا سره په تفاهم او همکارۍ سره د افغانستان د سولې ننګه وکړي.

کرزي زیاته کړې چې د پردې تر شا باید هېڅ معامله او برنامه نه وي، موږ شفافیت غواړو، موږ نه غواړو چې افغانستان د نورو هېوادونو د ګټو د تضاد ځای وي. حامد کرزی وایي چې افغانستان باید د رقابتونو ځای نه وي، موږ رنځ ګاللی دی، موږ غواړو چې افغانستان د همکارۍ ځای وي. د ښاغلي کرزي په خبره، افغانان د بهرنیو هدفونو لپاره وژل کېږي او که امریکا او پاکستان په ربښتیا هم وغواړي په افغانستان کې به سوله راشي، افغانان به یې هم هرکلی وکړي.

## د بښنې نړیوال سازمان: روانه اکتوبر میاشت د ملکي افغانانو د مرګ ژوبلې له کبله تر ټولو خونړۍ وه

د بښنې نړیوال سازمان په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي پر زیاتېدو اندېښنه ښودلې ده. دغه سازمان وایي چې په قطر کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او طالبانو ترمنځ له مذاکراتو سره هممهاله په افغانستان کې تاوتریخوالی زیات شوی دی.

یاد سازمان په یوه بیان کې ویلي چې په افغانستان کې روان تاوتریخوالی تر ډېره ملکیانو ته مرګژوبله اړوي.

د بښنې نړیوال سازمان اکتوبر میاشت په افغانستان کې د ملکي وګړو لپاره تر ټولو خونړۍ بللې او ویلي یې دي چې په وروستیو اونیو کې لږ تر لږه ۵۰ ملکیان په افغانستان کې وژل شوي دي.

دغه سازمان د غور ولایت په مرکز کې موټربم برید، په فاریاب کې د طالبانو توغندیز برید او په تخار کې د افغان ځواکونو هوایي برید ته په اشارې ویلي چې په دغو بریدونو کې لسګونو ملکي وګړو ته مرګژوبله اوښتې ده.

د بښنې نړیوال سازمان د جنوبي اسیا د څانګې مشر عمر وړایچ ویلي: «په داسې حال کې چې ښکېلې خواوې د سولې په تړاو خبرې کوي، موږ په دې میاشت کې د تاوتریخوالي د زیاتېدو شاهدان وو. په دغه هېواد کې جګړه د نورو په پرتله له ملکي افغانانو څخه درنه قرباني اخلي».

وړایچ دغه راز ویلي چې په افغانستان کې هره ورځ ملکي وګړي وژل کېږي او نړیواله ټولنه باید په دې برخه کې جدي پاملرنه وکړي. د بښنې نړیوال سازمان دغه راز د جګړې له ښکېلو خواوو څخه غوښتي چې د ملکي افغانانو د خوندیتوب لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کړي او نړیوالو منل شویو بشري قوانینو ته درناوی وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د کورنیو چارو وزارت د ادعا په اساس طالبانو تېره اونۍ په هېواد کې ۳۵٦ تهاجمي بریدونه کړي چې ګڼه مرګ ژوبله پکې اوښتې ده. د دغه وزارت ویاند طارق اراین ویلي چې تېره اونۍ د طالبانو د دوو ځانمرګو بریدونو او ۵۲ ماین چاودنو له امله ۵۱ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۳۷ نور ټپیان شوي دي. هغه زیاته کړې چې د افغان ځواکونو په ځوابي برید کې ٤۰۳ وسله وال طالبان هم وژل شوي او ۱٤۰ نور ټپیان شوي دي، خو طالبانو د کورنیو چارو وزارت د ویاند د څرګندونو په اړه څه نه دي ویلي.

## ولسي جرګه: که رواني نا امنۍ دوام وکړي، د امنیتي بنسټونو مشرانو ته د باور رایه نه ورکوو

د ولسي جرګې لومړی مرستیال محمد میرزا کټوازی وایي، چې په هېواد کې اوسنی امنیتي وضعیت او امنیتي ځواکونو ته اوښتې مرګ ژوبله ولسي جرګې ته د منلو نه ده. نوموړی زیاتوي چې د امنیتي بنسټونو مسوولین یې د روانو ناامنیو او افغان ځواکونو د مرګ ژوبلې د ډېرېدو په اړه ورغوښتي وو.

د کټوازي په خبره، د امنیتي ځواکونو د مرګ ژوبلې لوړ شمېر افغانان اندېښمن کړي، نو له همدې کبله یې د دریو امنیتي بنسټونو له سرپرستانو سره خبرې کړې دي.

هغه خبرداری ورکړی چې که امنیتي وضعیت او امنیتي ځواکونو ته د اوښتو تلفاتو بهیر همداسې ادامه پیدا کړي، د ولسي جرګې غړي به د دفاع، کورنیو چارو وزارتونو او ملي امنیت رییس ته د باور رایه ورنه کړي.

هغه زیاته کړې: «وړمه شپه مې د د فاع، کورنیو چارو وزارتونو سرپرستان او د ملي امنیت ریاست مشر کور ته راغوښتي وو او هغوی ته مې دا وویل چې په دندو کې نا صالح کسان ګمارلو له امله موږ له دې حالت سره مخامخ یو، که وضعیت همداسې تکرار شي، هغوی ته به وکیلان د باور رایه ورنه کړي.»

د یادونې ده چې پاکستان ته د ولسي جرګې د مشر میر رحمان رحماني له تګ وروسته د جرګې د مشرۍ مسوولیت کټوازي ته سپارل شوی دی. هغه زیاتوي چې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې فساد، مدیریتي ضعف، د خیالي ځواکونو شتون او په خپل وخت د خوړو او تجهیزاتو نه رسېدل، د امنیتي او دفاعي ځواکونو پر وړاندې جدي ستونزه ده.

خو د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق اراین ازادي راډیو ته ویلي چې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې خیالي ځواکونه نشته. هغه ټینګار کړی چې په دې برخه کې یې جدي اصلاحات تر لاس لاندې دي.

په ورته وخت کې د دفاع وزارت مرستیال ویاند فواد امان امنیتي ځواکونو ته د اوښتو تلفاتو په اړه څه نه وایي، خو دا مني چې د تېر په پرتله د طالبانو بریدونه ډېر شوي دي. هغه ټینګار کوي چې د افغان امنیتي ځواکونو په پرتله د طالبانو مرګ ژوبله څو سلنه ډېره ده.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily


غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com


یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ځلورمه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۵مه |۶۱۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۲۴ |
| ۳ | ۵ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۴۴ | لمر ختل ۰۶:۰۶ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۴۴ | ماښام ۰۵:۰۹ | ماخوستن ۰۶:۳۳

## نړۍ




له نړیوالو فشارونو سره؛

د ناګورنو قره باغ د مالکیت پر سر د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ سختې جګړې روانې دي

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴۲ میلیونه او ۶۱۶ زره او ۹۱ ته رسېدلي



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۴۲ میلیونه او ۶۱۶ زره او ۹۱ ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۱۵۱ زره او ۱۷۶ کسان مړه شوي او له ۳۱ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۷۵۸ زره او ۲۱۴ ته رسېدلي او ۲۲۹ زره او ۳۹۳ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه میلیونه او ۸۲۴ زره او ۱۵۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۳۵۵ زره او ۶۵۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۴۹۷ زره او ۱۶۷ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او هسپانیا د یو میلیون او ۱۱۰ زره او ۳۷۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

ارجنټاین، کولمبیا، پیرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## پنټاګون: د اېس- ۴۰۰ توغندیو ازموینه به ترکیې ته ناوړه پایلې ولري

وروسته تر دې چې ترکي پوځیانو د روسیې ساخت «اېس-۴۰۰» توغندیو سیستم ازموینه وکړه، د امریکا متحده ایالتونو دغه هېواد ته خبرداری ورکړی چې دا به ناوړه پایلې ولري.

د امریکا د دفاع وزارت ویاند جانتن هافمن په یوه بیان کې ویلي، د امریکا دفاع وزارت د ترکیې له لوري د اکتوبر په ۱۶مه د «اېس-۴۰۰» دفاعي سیستم د توغندي ازموینه په کلکو ټکو غندي او دا د امریکا د یوه متحد او د ناټو د غړي له ژمنو سره سر نه خوري.

له دې سره هممهاله د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، چې هېواد یې د توغندویو په ازموینې کې د امریکا اجازې ته اړتیا نه لري او د دغه سیستم فعالولو چارو ته به دوام ورکړي. هغه زیاته کړې، یونان هم له روسیې پېرل شوی اېس-۴۰۰ سیستم لري، خو امریکا کله هم یونان ته په دې اړه څه نه دي ویلي، نو دوی هم، نه له امریکا څخه د دې کار اجازه غوښتې او نه ورته د هغوی دریځ مهم دی.

دا په داسې حال کې ده چې ترکیې تېر کال له روسیې څخه د توغندیو اېس- ۴۰۰ دفاعي سیستم وپېره چې دا کار د امریکا له سختو غبرګونونو سره مخ شو.

## والی نیمروز: طالبان پس از گفتگوهای صلح بین الافغانی، به حملات شدت بخشیده اند



والی نیمروز، از روی دست گرفتن برخی برنامه ها جهت مهار نمودن حملات مخالفین مسلح و تامین امنیت در این ولایت خبر داده و گفت که طالبان پس از گفتگوهای صلح بین الافغانی، به حملات شدت بخشیده اند.

این درحالی است که سه شب قبل، در حمله طالبان بالای پوسته نیروهای امنیتی در ولسوالی خاشرود ولایت نیمروز، ۲۳ سرباز اردوی ملی کشته و زخمی شدند. سید ولی سلطان والی ولایت نیمروز، در یک نشست خبری در شهر زرنج گفت: «دشمنان افغانستان از شروع مذاکرات صلح باهیات جمهوری اسلامی افغانستان، به بهانه های مختلف شانه خالی میکنند از ادامهٔ مذاکرات، خشونت ها را در تمام افغانستان به شکل فجیعانه انجام میدهند.»

موصوف در ادامه افزود که قربانی این خشونت ها، مردم ملکی افغانستان استند. وی گفت: «پلان دشمن برای گرفتن نیمروز، توسط نیروهای امنیتی مهار شده، در نیمروز تحرکات شروع شده هرروز یک حادثه ایجاد میکنند، در فواصل دوردست ولایت هستند.» منبع افزود که نیروهای امنیتی شامل اردوی ملی، امنیت ملی و داخله، روی پلان مشترک امنیتی در این ولایت کار می کنند. موصوف گفت که به دنبال تکمیل شدن این پلان، برخی عملیات ها را راه اندازی خواهند کرد؛ تا این که ساحات ناامن را از وجود مخالفین مسلح پاکسازی کنند.

همچنان موصوف گفت که در پلان امنیتی؛ تامین امنیت ساحات تجاری و ترانزیتی مهم چون چاه بهار از طریق پل ابریشم بندر ملک و پروژه های بزرگ ملی عام المنفعه بند کمال خان، در اولویت قرار خواهد داشت.

## ژوند


## وټس‌اپ په انډرایډ کې مهمه اسانتیا وړاندې کوي




وټس‌اپ د پیغامونو او اړیکو د مختلفو ډولونو لپاره د نړۍ تر ټولو مشهور کاریال دی، چې په ټوله نړۍ کې سلګونه میلیونه کاروونکي لري. د وټس‌اپ د بریا یو له لاملونو څخه دا دی چې وخت په وخت کاروونکو ته نوي، په زړه پورې او د هغوی د خوښې ځانګړنې وړاندې کوي، چې له همدې امله لږ موده کې یې خپلو ټولو سیالانو ته ماتې ورکړه. وټس‌اپ اوسمهال هم په ډېرو نویو ځانګړنو کار کوي، چې ورسره به کاروونکي مهمو امنیتي او نورو ځانګړنو ته لاسرسی ولري.

له دې وړاندې وټس‌اپ د غوره امنیت لپاره انډرایډ کاروونکو ته د ګوتې نښې سېنسر له لارې د وټس‌اپ کاریال د کلپ او پرانیستلو اسانتیا وړاندې کړې وه او اوس دغه کمپنۍ غواړي چې د څېرې پېژندلو اسانتیا په وړاندې کولو سره خپل وټس‌اپ حساب ته لاسرسی لرل نور هم اسانه کړي. له دې اسانتیا وړاندې کولو وروسته به د تنظیماتو په برخه کې د «fingerprint lock» پر ځای د «biometric Lock» اپشن اضافه شي.

## که کم وزن غواړئ، دغه عادتونه خپل کړئ



چاغوالی د انسان د ښکلا پر له منځه وړلو سربېره، د عادي او وژونکو ناروغیو لامل هم ګرځي. چاغوالی د زړه وژونکو ناروغیو، د وینې لوړ فشار، د زړه حملې، شکرې ناروغۍ او حتی سرطان لامل هم ګرځي. ښه خبر دا دی چې په اسانۍ سره یې مخه نیول کېدی شي. په دې برخه کې مهم دا دی چې ځینې ګټور او صحي عادتونه خپل کړئ. دلته مو له دریو هغو اسانه عادتونو سره چې د چاغوالي مخه نیسي او وزن کمولو کې مو مرسته کوي، اشنا کوو. ډېرو څېړنو د چاغوالي او خوب تر منځ مهمه اړیکه ثابته کړې ده. څېړنو موندلې، هغه ماشومان او ځوانان چې لږ خوب کوي، د هغو په پرتله چې په کافي اندازه خوب کوي، ژر چاغېږي. یو له لاملونو څخه یې دا دی، هغوی چې مناسبه اندازه خوب نه کوي، د ستړیا احساس کوي چې دا د هغوی د ورزش او فزیکي فعالیت کچه اغېزمنوي. له دې سربېره، لږ خوب کول په بدن کې هغه هورمونونه چې اشتها کنټرولوي،اغېزمنوي.




عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافی خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافی خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له ایسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515